واحد فقیری هاری ۲۰۰۹/۰۱/۱۲م

# د غزې قتل عام

که له یوې خوا، د غزې په ترانگه کي، د اسرایلو بې امانه او تباه کونکي بمبارۍ او مځکنۍ حملې د بشري او بین المللي قوانینو څخه ښکاره سرغړونه ده. خو بلخوا، واقعیت دا هم دی چي په غزې کي روان نا برابره جنگ د اسرایلو پر خلاف د حماس د جگړه مارانو د بې سپکه او ماتو گوډو راکټونو په فېرولو باندي پیل سو. په بل عبارت، حماس د اسرایلو سره جگړه په لوی لاس شروع کړه. د حماس او اسرایلو ترمینځ د مصر په مرسته د شپږ میاشتني اوربند څخه را وروسته د ډسمبر په جریان کي دواړو خواوو د جنگ او تشدد لپاره ځانونه چمتو کول. ښو بالاخره، د حماس مشرانو فیصله وکړه چي د خپلو بې هدفه راکټونو په گوزارولو به اسرایل دېته اړباسي چي د اور بند د خبرو په بل پړاو کي له تل ابیب څخه زیات امتیازات ترلاسه کي. حماس فکر کاوه چي اسرایل به جنگ ونه مني. حماس اټکل کاوه چي سپیني مانۍ ته د ښاغلي اوباما ورتگ به اسرایل دېته وهڅوي چي څه روغه جوړه وکي. مگر داسي برېښي چي د حماس د مشرانو اټکل غلط را وخوت. حماس غوښتل چي اسرایل مجبوره کړي چي د اوربند یو داسي نوی تړون لاس لیک کړي چي د اسرایلو دوامداره هوایي، مځکنۍ، او سمندري محاصره او کلا بندي څه نرمه کړي. په کال ۲۰۰۶ کي کله چي حماس انتخابات وگټل او په غزې کي یې الفتح ماته کړه، اسرایلو، امریکا، او اروپایي هېوادونو سمدستي د غزې پر فلسطینیانو باندي هر اړخیز اقتصادي بندیزونه ولگول. جالبه دا ده چي په مینځني ختیځ کي امریکایان هم دیموکراسي غواړي او هم د خپلي خوښي کسانو انتخابېدل غواړي. که چیري د انتخاباتو نتایج د غربیانو پر طبیعت او مزاج برابر نه وي، د انتخاباتو مشروعیت او نتایج نه مني.

بلخوا، د اسرایلو د دفاع وزیر، یهود باراک، د بهرنیو چارو وزیره، مېرمن لیوني، او د محافظه کاره گوند لیکود مشر ښاغلي نتنیاهو ته د حماس راکټونو داسي فرصت په لاس ورکړ چي هغوی له خدایه پر اسمان غوښت، خو حماس پر مځکه پلاس ورکړ. درې واړه د ۲۰۰۹ فبروري د میاشتي په انتخاباتو کي د صدارت د چوکۍ لپاره مطرح کاندیدان دي. درې واړه غواړي چي عامه اسرایلیانو ته وښیي چي څونه د اسرایلو د امنیت او ساتني په اړه جدي او قاطع دي. درې واړه غواړي چي د فلسطینیانو او عربو سره د پرېکنده اقداماتو د کولو شهرت تر لاسه کړي. د اسرایلو د سیاستوالو او کاندیدانو لپاره همدا نا برابره جگړه د انتخابېدو لپاره یوه ښه وسیله کېدای سي. په هر حال، د دوی مقصد چي هر څه وي، خو د حماس یو څو پسپسانکي او راکټونونه د اسرایلو واکمنانو ته اجازه نه ورکوي چي ټول بین المللي او جنگي قوانین تر پښو لاندي کړي او د یو څو افراطیانو د حملو په جرم یونیم میلیون بني ادمان په مرگ تهدید کړي. ددې ډار سته چي اسرایل یو ځل بیا د پخوا په شان تېر جنگي جنایات او وحشت تکرارکړي.

په هرصورت، د غزې روان جنگ نا برابره او غیر متناسب دی. اسرایل عصري پوځ او سرشاره منابع لري،مگر فلسطینیان اشغال او محاصره دي. اسرایل جنگي الوتکي، ټانکونه، یو مجهز پوځ او پراخ غربي ملاتړ لري. په مقابل کي، فلسطینیان کلا بند، بې پوځه، او بې وسلې دي. اسرایل منظم مرکزي حکومت لري، خو فلسطینیان پر الفتح، حماس، القسام، او راز راز نورو ډلو باندي وېشلې دي. فقط په دوو اونیو کي قریب نهه سوو ته نژدې معلوم فلسطینیان قتل سویدي او یقینا څه نور هم تر خاورو خځلو لاندي دي، خو د کال ۲۰۰۱ راهیسي د حماس د پسپسانکو په حملو کي تر اوسه پوري شل تنه اسرایلیان وژل سویدي.

ښاري جنگونه عموما خونړي وي، خو د اسرایلو او فلسطینیانو جگړې په خاصه توگه ډېري سختي وي. د غزې په رواني جگړې کي همدا اوس لا په فلسطینیانو هدیرې ډکي سویدي. بسته کورنۍ سټ سویدي. د ټپیانو شېمر زرهاوو ته رسېږي. د اسرایلو او فلسطینیانو تاریخي سابقه دا ښیي چي د غزې په روان ښاري او لاس په لاس جنگ کي به بې رحمي او جنایت ډېروي. گڼ شمېر نور فلسطینیان به هم قتل سي، خو د لبنان په شان به د اسرایلي عسکرو تلفات هم ورو ورو زیاتېږي. د اسرایلو پوځ گومان کوي چي د وچ زور او پراخ تشدد استعمال به د حماس غړي او پلویان د مرگ او یا تسلیم سره مخامخ کړي. خو د اسرایلو د پوځ بې رحمۍ او جنایت اوس لا په غرب کي د عامه خلکو تر مینځ د اسرایلو پرخلاف احساسات را ولاړ کړي دي. په نوره نړۍ کي هم د اسرایلو د تجاوز په مقابل کي پراخ مخالفت راڅرگند سوي دي. په اسلامي نړۍ کي خو طبعا د فلسطینیانو سره خواخوږي او همږغي خورا زیاته ده. په


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

اکثرو اسلامي هېوادونو کي د اسرایل د تجاوز پرضد پراخ اعتراضونه او مظاهرې رواني دي. بلخوا، که څه هم امریکایي مطبوعات هڅه کوي چي د فلسطینیانو قتل عام ډېر ښکاره نه کړي، خو بیاهم تشدد او مرګه ژوبله دونه عامه او پراخه ده چي ازاد مطبوعات یې پرته له خپرولو څخه بله چاره نلري. په بل عبارت، ځیني عکسونه او خبرونه باید خپاره کړي.

د تاریخ په جریان کي پر یهودانو باندي متخلفو اقوامو په راز راز پلمو او نومونو لکه هالکاسټ، سود خوران، او په روسیې او شرقي اورپا کي د یهودانو پر خلاف د "پاګرام" په نامه بېشماره ظلمونه سوي دي. د فرعون، بابل، روم، او نورو حاکمانو په دوران کي د یهودانو سره نژادي او مذهبي تبعیضونو، تجاوز، او جنایت سوی دی. د یهودانو تاریخ د اسارت، مربیتوب، مبارزې، او توحیدي عقیدې د رسالت څخه جوړ دی. همدې تاریخي قدامت او مستند ظلمونو په یهودانو او د هغوی په غربي محافظه کاره پلویانو کي یو ډول ډار او وهم ایجاد کړی دی. بل عبارت، هغوی فکر کوي چي د یهودانو پر خلاف هره حمله _په هر اندازه چي وي _ د هغوي د نژادي تباهۍ په مقصد کېږي. اسرایلیان په یوه ډول روحي مرضي ګرفتاره دي. لنډه دا چي عموما پارانوید دي. د نوک جواب په سوک ورکوي. یهود پدې باور دي چي د هغوی د محوه کولو لپاره تل یوه دسیسه روانه وي. نو بنا، هغوی حق لري چي د ځان د ساتلو لپاره مخکنی او نابېره حملې وکي. پر ځان او نورو باندي سیمېټي دیوالانونه، غزن سیمونه، او جنګي کلاوي را وګرځوي. د امنیت ټینګولو او د ټروریزم سره د مبارزې تر نامه لاندي د نورو خلکو مځکي لاندي کړي. د فلسطین په خاوره کي ناقل یهودان مېشته کي.

اکثره یهودان ګومان کوي چي هغه فلسطینی ځوانان چي د اسرایلي ټانکونو سره په کاڼو جنګېږي، د هغه لرغوني تاریخي تهدید ادامه ده چي فرعون، روم، هسپانوی انکوېزشن، هټلر او نازیانو د یهودانو ژوند او هستۍ ته مخامخ کړی وو. د همدې خیالي ګواښ د دفع کولو تر پلمې لاندي اسرایل له فلسطینیانو سره د اپارتایت چال چلند کوي. په غزې کي، د اسرایلو دوامداره هوایي او مځکني محاصرې د خلکو ژوند، امنیت، او اقتصاد له حرکت او پر مختګ څخه را ګرځولی دی. په کال ۱۹٤۸ کي د اسرایلو د حکومت د جوړېدو سره سم، د یهودانو او فلسطینیانو تر مینځ یو داسي نښنلسټ، مذهبي، او نژادي جنګ پېښ سو چي تر نن ورځي پوري یې نه یوازي د منطقې بلکي پر جهاني سیاست او سولي هم منفي اغېزه شندلې ده. د اسلامي نړۍ او امریکا اړیکي یې ډېري پېچلي او ترینګلي دي. په اسلامي نړۍ کي یې د افراطي مذهبي ډلو د قوت او خطرناکه ډېرېدو سره مرسته کړې ده. همدې شرایطو د القاعدې، الجهاد، لشکر الطیبې، او نورو مذهبي ټروریستي ډلو ته ددې فرصت برابر کړی دی چي په ډېره اساني سره نوي غړي، مذهبي ډانګیان، او جهادیستان پیدا کړي. د ځانمرګي، ټرور، او وحشت لپاره نوي ځوانان استخدام کړي. په سیمه کي، اعتدالي خوښونکي لا نور هم کمزوري کړي. د عصري او مترقي اجتماعي پرمختګ مخه ونیسي. او لنډه دا چي د مذهبي افراطیت بازار تود وساتي.

په فلسطین کي، د اسرایلو اشغال مقاومت ایجاد وی. اکثره مبصرین باور لري چي که څه هم اسرایل به سخت مالي او ځاني تاوانونه ورسوي، خو حماس به نور هم غښتلی سي. ځکه یو مقاومت هغه وخت پاېښت لري چي دښمن ته مطرح وي. مدام یې په تباه کولو پسې وي. یو مقاومت غواړي چي دښمن ته اهمیت ولري، د دښمن توجه ورته جلبه وي. همدا د دښمن پام د هغه ژوند دی. د اسرایلو هره بمباري د حماس محبوبیت نور هم زیاتوي. ځکه حماس عقیده لري چي محمود عباس پخپلو پالیسیو کي ناکامه سو. عباس ونه کړای سوای چي د اسرایلي ناقلو د مېنو د ابادولو مخه ونیسي؛ یا اسرایلو سره یوې نهایي روغي جوړي ته ورسېږي؛ یا د بیت المقدس د نهایي برخلیک په باب قطعي فیصلې ته ورسېږي؛ او یا د فلسطیني مهاجرینو برخلیک معلوم کړي. عباس د روغي جوړي په پالیسۍ کي ناکامه سوی دی. نو بنا، د حماس په ګمان یوازنۍ لاره مسلح مقاومت او جنګ دی.

په سیمه او نړۍ کي د سولي او عدالت د ټینګېدو لپاره باید د فلسطین پر خلاف د اسرایلو د اپارتایت نظام ختم سي. ایف ۱٦ جنګي الوتکي د ملکي اهدافو د ویشتلو لپاره باید استعمال نه سي. په متحده ایالاتو کي،که څه هم، مطبوعات د اسرایلو خوا نیولې ده، خو یو شمېر مهمو امریکایي مشرانو، لیکوالانو، منورینو، او عادي امریکایانو د اسرایلو د حیرانونکي زور زیاتي او تشدد د سمدستي ختمولو ږغ کوي. د نړۍ په نورو هېوادونو کي هم د فلسطینیانو حقه غوښتنو لپاره ملاتړ زیاتېږي. څرګنده خبره ده چي اسرایل په سیمه کي پرته د امریکا له ټوټال ملاتړ څخه دا ډول بدماشي او وژني نسي کولای. فعلا، اسرایل په سیمه کي پوځي سیال نلري. هیڅوک یې جواب نسي ویلای. پر ټولو عربي هېوادونو غښتلی دی. هر ځای خپل پوځي زور او تشدد ښیي. د هر مشکل حل په نظامي عملیاتو کي ګوري.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

لبنان نیسي. سوریه بمباروي. ایران تهدیدوي. په گرده مینځیني خیتځ کي د فلسطینیانو پر خلاف قتلانه حملې او بې امانه گوزارونه کوي. وچ او لانده ټول سوځي. د هیچا پروا نلري. د یو څو افراطیانو د اعمالو په خاطر څه باندي یو نیم میلون انسانو په ډله ایزه توگه کړوي. د غزې په تړانگه کي د خلکو تراکم او گڼه گوڼه زیاته ده. پداسي ځایونو کي بمباری کول طبعا د ملکي اهداف په نښه کول. د اسرایلو د غزې د تړانگي دفترونه، د پولیسو سرماموریتونه، د حماس دفترونه او کورونه، ماجتونه، مکتبونه، او غزې د تړانگي گرده اقتصادي جوړښت په نښه کړی دی. د غزې ټولي لا ري، اسمان، او سمندر د اسرایلو په ولکه کي دي. د غزې په تړانگه کي یوه محسوسه لوږه، په روغتونو او درملتونو کي د دوا درمل نشته والی، د ډاکټرانو او نرسانو، او د طبي ضروري موادو او الات د نشته والي سره مخامخ دي.

په پای کي، د اسرایلو او فلسطین د شخړي فیصله کول د نړیوالي سولي لپاره په عامه توگه او په مینځني ختیځ کي په خاصه توگه اهمیت لري. د اسرایلو او فلسطین جنگ په منیځني ختیځ کي د نورو شخړو او جنگونو مور ده. د اسرایلو پدې خلاف رفتاري کي هغه ملکونه هم شامل دي چي پدې تیرو شپېتو کلونو کي يې د اسرایلو له هر راز وحشت او بربریت څخه دفاع کړې ده. پدې ناورین کي، د متحده ایالاتو په شمول هغه اروپایي ملکونو هم گډون لري چي د بشر د حقوقو، ازادی، دیموکراسی، او د قانون د حاکمیت نارې هم وهي، خو د اسرایلو او فلسطین په شخړه کي د اسرایلو له هر جنگي جنایت څخه دفاع کوي. حماس د یوه داسي قوي دښمن سره جنگیږي چي په هیڅ صورت يې نسي ماتولای. اسرایلیان او فلسطینیان مجبوره دي چي د گډ ژوند د کولو لپاره یوې روغي جوړي ته سره ورسیږي. څرگنده ده چي یوه خوا هم ددې توان نلري چي بله خوا کاملا ختمه او تباه کړي. بلکي مقعوله لاره دا ده چي دواړي خواوي دوو دولتونو جوړېدو ته غاړه کېښیږدي. د فلسطین اشغال د ختمیدو سره سم به سوله هم دغي ناکراري او کړېدلي سیمي ته را وگرځي. د اقتصادي پرمختگ او انکشاف لپاره به وخت او فرصت برابر سي. د دښمنی او بدی ځای به مقعوله همکاري او ښه گاونډیتوب ونیسي. او دا روان جنگ، اپارتایت، او مذهبي حماقت ختم سي. والسلام.

پایان


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de